**بسم الله الرحمن الرحیم**

**له حدیث شریف سره**

**اسلامي امت له منځه نه ځي!**

معاویه رضی الله عنه وایي: له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه مې واورېدل چې ویې فرمایل:

**وَلَنْ تَزَالَ هَذِهِ الأُمَّةُ قَائِمَةً عَلَى أَمْرِ اللَّهِ لا يَضُرُّهُمْ مَنْ خَالَفَهُمْ حَتَّى يَأْتِيَ أَمْرُ اللَّهِ». (بخاری:۷۱)**

***ژباړه:*** *او دغه امت به همداسې د خپل رب پر دین ټینګ پاتې شي او د مخالفینو مخالفت به ورته زیان ونه رسوي، تر دې چې قیامت راورسېږي.*

دا خبر د رسول الله صلی الله علیه وسلم له طرفه دی چې زموږ لپاره د امت اوسنی وضعیت انځوروي او په ورته وخت کې دغه خبر موږ ته ډاډ هم راکوي. نو دغه امت به د قیامت تر ورځې پاتې وي، ان که کمزوری هم شي او خپل عظمت له لاسه ورکړي، خو بیا هم له منځه نه ځي او پای نه مومي. که څه هم دا امت له سختو ستونزو او کړاوونو سره مخ دی، خو پر وړاندې یې د غره په څېر ولاړ دی او د دښمنانو مکر، د حکامو دسیسې او د علماوو نه ملاتړ ورته کوم زیان نه شي رسولی.

اوسنی دردوونکی حالت باید د دغه حدیث له مخې بدل شي، ځکه دغه حدیث خبر ورکوي چې اسلامي امت به تلپاتې وي او تر کمزوري کېدو وروسته به بیرته ځواکمن او غښتلی کېږي. تاریخ شاهد دی چې دغه امت وړاندې هم تر دې کچې کمزوری شوی و، چې د تاتاریانو په واکمنۍ او په صلیبي جګړو کې یې د له منځه تلو اټکل کېده، خو په ډېرې چټکۍ له خوبه راویښ شو، پر خپلو پښو ودرېد او یو ځل بیا یې خپله سلامتي تر لاسه کړه.

د امت کمزوري هغه ته کوم زیان نه رسوي او تر هغو چې پر خپل دین کلک ولاړ وي، د حکامو خیانت هم ورته زیان نه شي رسولی، بلکې بیرته راپورته کېږي او د حکامو د ګوښه کېدو او د بشر تر منځ د غوره امت د مقام لپاره به مبارزه کوي.

اې الله سبحانه وتعالی! د رسول الله صلی الله علیه وسلم په طریقه خلافت ژر را په برخه کړه، چې په واسطه یې د مسلمانانو خپګان لرې کېږي او د مصیبتونو مخه یې نیول کېږي. اې الله سبحانه وتعالی! د خپل کریم نور په واسطه ځمکه روښانه کړه. اللهم آمین آمین.

**لیکوال: ابومریم**

**ژباړه: بهیر «ویاړ»**